محمد نقیب تره خیل

بلجیم، ۲۰۱۱/۰۷/۲۷

# ټولنو یوالی وکړئ مه بېلوالی

ایرانی چنګیزپهلوان په هغه هېواد کې د پوهنتون استاد او د(افغانستا عصر مجاهدین و برامدن طالبان) کتاب لیکونکی دی، او خپل دغه کتاب یې قوماندان مسعود ته ډالي کړي. هغه وایی ۱۹۹۲وم کال د پښتونیزم د دونیم سوه کلنۍ واکمنۍ پاي وه. لازمه خو داوه چې لمسونګر متعصب ویلي وای، څه یاده نېټه د پښتنو دځوروني، کړوني له کور او کلي د شړني او نسل وژني پیلامه شوه. پښتنو ته چې دتېر مهال د لټۍ، بېکارۍ، نالوستۍ، بد نېتۍ، بې اتفاقۍ او د حاکمو او مطرحو سیاستوالو د خطاوو له وجې د سر و مال درنه بیه ورکول شروع شوه، په کور دننه خو وطن پرې سور تنور وه. لېکن په بهرکې کډوال پښتانه د پردېسۍ ابترو حالاتو تېرو سهوو او ګناهونو ته متوجې کړل، یو او بل ته یې د پخلا ینې لاسونه سره اوږده کړه د کولتوري، فرهنګي، آدبي ټولنو په جوړولو کې سره راغونډ یدل. که د پاک ضمیرلرونکو کسانو په همغوغمونکو شېبو کې دهغوی نیک خوځښتونه لیدای یا پرې خبریدای. یقیناً چې د شاباس له ویلو سره جوخت د قام په ږوا لي شکر وېستلای وای. د پښتون تېر پر بې اتفاقۍ د تاریخ د تورو کرښو د ګواهۍ سربېره په همغه مهال کې د دوی بوږنونکی حالت لکه د ګل د بوی په شان پدې حقیقت ګویا وه. چې بېلوالی او نالو ستي د دوي بنیادي عامل دي. له پښتنو پرته په نړۍ کې به د بل داسې وېشلې قوم څرک چاته نه وي، چې لس یې په یوه لار سره نه ځي. قومي لاربنود او ټولن پېژندونکي خوشحال خان خټک ۳۵۰ کاله پخوا د پښتنو په بې اتفاقۍ اعتراف کړی.

لس به مه سره ونه وینې په ننګ کې که درست ملک سره پره کړې تر تور سنګه بېلوالی

او نا لوستي چې د فرد، ولس او ټولنې د قوت او ثروت شیره دالاجي شوي ګني په څېر زبېښي. پښتون ملت هم ورته زبېښل شوی. سړی زبېښل شوی توکي ایسته غورځه وي. مړخولي رباني غوږ بوچې مسعود، کوډن دوستم، ګوسفندي محقق او مېښکټي اسمعیل د شمال شرقي، شمالي او شمال غربې ولایاتو په لک هاوو پښتانه څه یې په دښتو او کندوکې ځنا ورانو او مرغانوته وارته ول او څه یې لکه چرګان کشی کړه، بې کسه او بې وسه کو رنۍ چې د تېښتي شیمه یې نه لرله دانسانیت د دښمنانو ظلمو او تېریو ته یې غاړه کېښوه. پر پښتنو باندې د داسې تورې تیارې ورځې د راتلو له وېرې د قوم رېښتني لاربنود ستر خوشحال د څښتن تعالی په دربار کې داسې عجز کړی.
خدای دې ورک د پښتنو کا دا درې توکه: یو بد جهل بل بد نیت دریم نفاق.
د سپین زږو پښتنو په زړونو کې به تېرشوی وي، چې موږ ته به د لاربنود خوشحال خټک دوعا قبوله شوی وي او که د مدعا کسان، خپلو پرونیو سهوو او ګناهوو ته ملتفت شوي. چې تر پرونه دننه په هېواد کې د خوښیو په شېبو کې لس تنه دځان پالنې، ځان غوښتنې او دسیاسي رنځ لامله نه یوځای کېدل. اوس شکر دی همغه کسان په پره دیو هېوادو کې دغمونو او دردونو سره سره د کولتوري، هنري، آدبي ناستو جوړهولو لپاره په ګډه هلې ځلې کوی. همدا پرونې د سیاسي اقتدار لرونکي اتلان وه، څه په نامه پښتانه ته ورتلل پخپله یې پخپل تیر سیاسي اند او کړنو پېښېماني کوله، ویل یې چې موږ پښتانه په سیاسي ایډیاوو نه بلکې په افغان پالنه او هېواد پالنه راغونډېږو، افغانستان مو کور پښتو مو مور او موږ یې اولاد ونه یو، نو باید چې د مور او کور د بقا لپاره سره یو شو. د پرونې بېلوالي په وجه له کوره وشړل شولو که نن سره یوځای نشو. ټلواله به مو افغانستان په خراسان ونوموي والله که مو بیا د پلار او نیکه زیارت کولوته هم پرېږدي. داسې خوږ او پرځای کاري تبلیغ که د شنډو مغزو کس اورېدلي وه، هم به یې ورسره منلی وه. د ویښ مغزو خاوندانو خو به خامخا منه.
نفاق په اتفاق واوښت، د پوهاوي په موخه د تاریخي ورځولمانځل د مړو او ژوندیو د منل شوو ملي اتلانو، پوهانو، آدیبانو په درناوي ناستې او دهېواد او ولس په مخکې د پرتو ستو نزو د چارو دموندو په اړه غونډې جوړه ول د ټو لنو له بر کته ښه په درز پیل شوه. د قومي او ژبني وفاداري ښودلو په موخه یې د ټولنو د نومونو مختاړي د افغان، پښتون په کلمو یا یې د پښتونو د ملي شخصیتونو په نومو ونومول. تر هغه چې ماته خوړلو سیاستوالو تومنه نیوله، تیت و پرک یاران یې راټولول، ډلګی بندي کول یې، پخوانۍ پانګه یې پکار اچوله یا د پانګه ګۍ خاوند کېدل او یا یې د کابل په اداره کې د سر ننوتو ځای مونده پښتویي کوله. انسان ډېر ضعیف النفس شی دی که یې زور ته سر ټیټ نشو ثروت ته یې خامخا ټیټیږي.او د مکارو انسانانو یاري لکه د ګیدړې په شان تر تمې وي.
کیسه ده وایې چې ګیدړه نژدې د ښکاریانو د ښکار تومه شوې وه، ګېدړې سوال وکړ. پیر صایبه که له ظالمانو دې په آمان کړم ګز دې راوړه چې خامتاه درکړم. تقدیر وه او که د پیرحکمت، ګیدړه له مرګه بچه شوه. څه ځنډ وروسته پرې غږ وشو. ما خو وژغورلې اوس خامتا راګزکړه، ګیدړې وویل! پیرصایبه ته په ټوکه هم نه پوهېږې.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اوس که پروني تبليغانوته ژمني يې ورپه ياده وي. د ګيدړې ځواب يې په خوله وي( تاسو په ټوکو هم نه پوهېږي) پخوا ولس په پنځو ګوندو او شپږو تنظيمو وېشل شوی وه، اوس يې په شپږ شلو هغو وېشلی دی.او له شپږسوو نه په زياتو ټولنو باندې. هره ټولنه لکه د لرګي ماتونکي پانې غوندې ده. که د لرګی ماتونکی دتبر په شدت لرګی چاوودہ وکړي بيا د چاودې په برابر پکې پانه وهي. د کابل اداره خو د چاودو مجموعه ده، نن هره ټولنه پدې سرګردانه ده چې د ځان په برابر پکې درز ولټوي او سر ورکې ومندي. اوس د ټولنې غړي د ولسپالنې پرځای سياست پالنه کوی، شخصي ګټې د ملي ګټو نه ورته ړومبی دي، د ضميرخلاف له قام سره د اخلاص- ېووالي او پوهاوي پر ځاې بخيلی، سيالۍ او غمازۍ کوی وي. دوی د شهرت، قدرت او ثروت په خاطر وېشلی قوم لا پسې وېشی، که لس کاله نور پښتون وژنه همداسې روانه وي خدای مه کړه د پښتو د کلمې جنازه به واخستل شی. بيا به دا ابن الوقته کسان خپلو سيالانو ته د کوم ټبر په نامه ځان ورپېژني؟

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ